
هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش شماره مسلسل(۲۸٤) ماه ربیع الاول ١٤٤٦ هـ ق مطابق سنبله ۱۴۰۳ هـ ش


دست‌یابی به علوم دینی و عصری از مهم‌ترین نیازهای جامعه محسوب می شود.

# د پوهنې وزارت سرپرست میدان وردګ ولایت ته سفر وکړ



د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا د یو شمېر کارپوهانو په ملتیا، د میدان وردګ ولایت د ښوونیز وضعیت د څېړلو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

د پوهنې وزارت سرپرست پدې سفر کې د میدان وردګ ولایت د پوهنې له رئیس او مشرتابه سره تر کتنې وروسته په یوه غونډه کې ګډون وکړ چې پکې د پوهنې ریاست مسئولین، آمرین، مدیران او ښوونکي حاضر وو.

همدارنګه د میدان وردګ ولایت پوهنې رئیس مولوي محمد عثمان حریت، د پوهنې وزارت سرپرست ته د میدان وردګ ولایت د پوهنې ریاست د کړنو او لاسته راوړنو راپور او د راتلونکو پلانونو په اړه معلومات وړاندې کړل.

ورپسې د پوهنې وزارت سرپرست د یاد ولایت جلریز ولسوالۍ ته ولاړ او هلته یې د نعمانیه او سلمان فارسي له دارالعلومونو څخه د کتنې ترڅنګ، د یو شمېر ښوونځیو څخه لیدنه وکړه او د یو ښوونیز بنسټ احاطوي دېوال یې له اړینو ملحقاتو سره، چې ۳.۵ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغلی وو پرانیست.

دغه راز نوموړي د جلریز ولسوالۍ په ذیولایت لېسه کې د پوهنې سیمه ییزو چارواکو او زده کوونکو ته وویل، د افغانستان اسلامی امارت د

۲ مخ

## تقدیر اتشه معارف مقیم پاکستان از سوی سرپرست وزارت معارف

مولوی عبدالقدیر سعید اتشه وزارت معارف در شهر پشاور جمهوری اسلامی پاکستان به پاس خدمات شایسته شان از سوی الحاج مولوی حبیب الله آغا با اهدای تقدیر نامه، مورد تحسین قرار گرفت.

سرپرست وزارت معارف خدمات نامبرده را در زمینه ایجاد سهولت ها برای متعلمین و فرزندان مهاجرین افغان مقیم آن کشور مهم و در خور ستایش دانسته و از وی خواست تا در فراهم آوری تسهیلات لازم بیشتر در راستای تکمیلی اسناد و تصدیق نامه های تعلیمی برای آن عده شاگردانی که دو باره به وطن برگشت می نمایند، توجه جدی نماید.

در همین حال مولوی عبدالقدیر سعید با تجدید میثاق خویش در جهت انجام کار صادقانه برای هم وطنان مهاجر افغان مقیم پاکستان، از تلاش های بیشتر خود به رهبری وزارت معارف اطمینان داد.

## سرلیکنه

### پوهنې وزارت د دیني علومو تر څنګ د عصري علومو ودې ته هم جدي پاملرنه کوي

د پوهنې وزارت زموږ په ګران هېواد کې د نوي نسل د سالمې ښوونې او روزنې یوازینی روزنیز بنسټ په توګه دنده لري چې د هېواد نوی نسل داسې وروزي چې وکولای شي دخپل هېواد، خپلواکي او د خاورې تمامیت څخه دفاع وکړي او د خپل هېواد د سمسورتیا او بیارغولو له لارې د هېواد میلیونونو پرګنو ته د خدمت جوګه او په نړیواله کچه د داسې یو نظام په رامنځته کولو وتوانیږي چې د هېواد ځلوبښت کلنې غمیزې ته د پای ټکی کېږدي او په هېواد کې د پراخو پرګنو تر منځ د اسلامیت، سولې، ورورولۍ او سوله‌ییز ګډ ژوند شرایط رامنځ ته کړي. خپل هېواد په نړۍ او سیمه کې د یوه آزاد، خپلواک، په ځان بسیا او کټور دولت او حکومت په توګه نړیوالو ته ور وپېژني.

۲ مخ

## د دوشي ولسوالۍ پوهنې آمریت ودانۍ تر بیارغولو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

د بغلان ولایت دوشي ولسوالۍ د پوهنې آمریت ودانۍ چې څه موده وړاندې یې د ترمیم چارې پیل شوې وې، د یاد ولایت د پوهنې رئیس الحاج مولوي محمد نور عزیزي له خوا تر پرانیستو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د یادې ودانۍ پر بیارغونې یو میلیون او ۳۰۰ زره افغانۍ لګښت راغلی، چې د پوهنې وزارت له لوري تمویل شوې دي.

## نیمروز کې په زرګونو زده کوونکو تدریسي مواد ووېشل شول



د نیمروز ولایت د پوهنې رئیس الحاج مولوي ګل احمد حقاني وایي چې په دې وروستیو کې د یاد ولایت د پوهنې په برخه کې د یوه مرستندویه بنسټ په ملاتړ ۱۲۶۵ کارتنه درسي

۲ مخ

## غزني کې د مدرسې او ښوونځي د جوړېدو د بنسټ ډبرې کېښودل شوې

د غزني ولایت مقر ولسوالۍ اړوند په عزت قلعه کلي کې د «روضة المدارس» منځنۍ ښوونځي او د مقر ولسوالۍ اړوند ملا تور کلي کې د «معدن العلوم» په نوم د یو باب دیني مدرسې د ودانۍ بنسټ ډبرې د پوهنې ریاست مسئولینو، علماوو او د سیمې د مخورو په ګډون، د یو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوې.

د غزني ولایت پوهنې رئیس الحاج مولوي میر نصیر احمد حسیني وایي: د ښوونځي دغه ودانۍ چې ۱۲ درسي ټولګي او یوه اداري خونه به ولري، د یادې سیمې د یو تن معارف دوست شخص حمیدالله عزت په مالي ملاتړ، د ۴ اعشاریه ۵ میلیونه افغانیو په لګښت سره په یو جریب ځمکه کې جوړېږي.

همداراز د مقر ولسوالۍ اړوند ملا تور کلي کې د خلکو په مالي مرسته د «معدن العلوم» په نوم د یوې دیني مدرسې ودانۍ د بنسټ ډبره کېښودل شوه چې د پوهنې ریاست د چارواکو په وینا په پام کې ده چې د یادې مدرسې ودانۍ به ۴ درسي ټولګي، یوه اداري خونه له نورو اړینو ملحقاتو

۲ مخ

## باشنده گان ولایت میدان وردگ صدها هزار افغانی به معارف این ولایت کمک کرد

مولوی محمد عثمان حریت رئیس معارف ولایت میدان وردگ میگوید که شماری از باشنده گان ولسوالی سید آباد صدها هزار افغانی به معارف این ولایت کمک نموده است.

به گفته رئیس معارف این ولایت باشنده گان معارف دوست ولسوالی یاد شده حدود پنج جریب زمین ملکیت شخصی شان را که ارزش پولی آن بالغ به یک میلیون افغانی میگردد را برای ساخت یک باب لیسه در ساحه مستی خیل این ولسوالی وقف نموده است.



همچنان الحاج جلال الدین وردگ یک تن از معارف دوستان این ولسوالی نیز برای بازسازی مکتب ابتدائیه بی‌بی‌آمنه در مربوطات این ولسوالی مبلغ ۹۲۸ هزار افغانی کمک کرد.

در این حال داکتر عبدالولی یکتن دیگر از معارف دوستان این ولسوالی بیش از ۳۰ هزار افغانی را برای ترمیم لیسه عثمانیه واقع در دره تنگی مربوط ولسوالی سید آباد از پول شخصی خود کمک نموده و یک باشنده دیگر این ولسوالی نزدیک به تعداد ۲۰۰۰ جلد کتاب درسی گوناگون را به ابتدائیه اناثیه قریه زرنی اهدا نموده است.

همچنان در ولسوالی

صفحه ۲

## سرپل ولایت کې د یو باب ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه

د سرپل ولایت پوهنې ریاست په یوه خبرپانه کې ویلي: په دې وروستیو کې د یاد ولایت سانچارک ولسوالۍ اړوند په ګذر کلي کې

۲ مخ




## گشایش یک باب مکتب ابتدائیه در ولایت کندز

از سوی مولوی حزب الله مبشر رئیس معارف ولایت کندز مکتب ابتدائیه جنت باغ در ولسوالی آقتاش ولایت کندز افتتاح و به بهره برداری گذاشته شد.
این مکتب که به مصرف مالی یک نهاد مدد رسان به معارف در آن ولایت اعمار شده که دارای ۸ صنف درسی، ۲ اتاق اداری با تمام ضروریات آن به شمول میز و چوکی و اتاق لابراتوار می باشد که مجموعا حدود ۲۵ میلیون افغانی بالای آن مصرف شده است.
موصوف حین افتتاح مکتب یاد شده گفت: امید وارم با ساخت این مکتب، سهولت های بیشتر تعلیمی برای فرزندان شما مهیا شده باشد و از شاگردان و مسئولین نیز خواست تا در حفظ و نگهداشت مکتب توجه جدی داشته باشند.
اهالی منطقه از اعمار مکتب در ولسوالی شان اظهار خرسندی نموده و از اهتمام رهبری وزارت معارف از بابت ساخت مکتب مذکور در ولسوالی شان قدردانی نمودند.

## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي د لوګر ولایت د پوهنې له مسئولینو سره وکتل

د مولوي محمد نعیم عمیر په مشرۍ د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي په داسې حال کې چې د لوګر ولایت پوهنې رئیس الحاج عبدالرحمن حمیدي هم حضور درلود؛ د یاد ولایت د ښوونځیو د اداري او تدریسي څانګو ۳۰۰ تنو کارکوونکو ته یوه اصلاحي غونډه جوړه کړه.
په دغه غونډه کې یاد پلاوي د پوهنې کارکوونکو ته په خطاب کې د شرعي مسایلو په بیانولو سره له هغوی وغوښتل، تر څو خپل صورت او سیرت د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد «صلی الله علیه وسلم» په سنتو برابر او له مراجعینو سره نیک چلند ترسره کړي.
له بلې خوا د لوګر پوهنې رئیس یاد ولایت ته د ورغلي پلاوي له سفر څخه د هرکلي ترځنګ، د دعوت او ارشاد ریاست د ټولو لارښوونو او پلانونو د پلي کېدو ډاډ ورکړ.

## افتتاح سیمینار مسلکی احصائیه در ریاست معارف ولایت پنجشیر



الحاج مولوی بسم الله نعمانی رئیس احصائیه و معلومات وزارت معارف به هدف بررسی امور تعلیمی و راه اندازی سیمینار های مسلکی برای آمرین مراکز تعلیمی، کارمندان تضمین کیفیت و آمرین معارف ولسوالی ها، وارد ولایت پنجشیر شد.
رئیس احصائیه و معلومات این وزارت در حالی که مفتی حبیب الله نوری قتاده رئیس معارف و سایر مسئولین آن ریاست حاضر بودند، سیمینار مسلکی را برای ۱۸۰ تن مسئولین نهاد های تعلیمی، کارمندان مدیریت تضمین کیفیت و مسئولین معارف ولسوالی های آن ولایت افتتاح نمود.
موصوف با بیان مهم بودن احصائیه های دقیق در ادارات گفت: اگر بخواهیم که یک اداره منظم و شفاف داشته باشیم و بودیجه آن را به وجه درست به مصرف برسانیم، لازم است تا ارقام و احصائیه های دقیق داشته باشیم.
در ادامه وی از شاملان سیمینار خواست تا از داشته های سیمینار و تجارب ترینران استفاده بهینه نمایند.

**د پوهنې وزارت سرپرست...**

پوهنې وزارت مشرتابه د دیني علومو ترڅنګ د عصري علومو کیفیت او پراختیا ته هم جدي پاملرنه کوي.
د پوهنې وزارت سرپرست د ښوونځیو زده کوونکو ته په خطاب کې وویل : تاسو د هېواد د راتلونکي معماران یاست، دا هېواد په تاسې جوړېږي، په تاسو لازمه ده، چې مسئول واوسئ او د خلکو او وطن په وړاندې خپل مسئولیتونه په لاښه توګه او مهرباني سره سرته ورسوئ.
نوموړي څرګنده کړه، زموږ ښوونکو او مدرسینو ته هم لازمه ده چې د زده کړې په برخه کې د هېواد بچیان په اسلامي روحیه وروزي او په دې لاره کې خپلې هڅې لا زیاتې کړي.
ورپسې استاذانو، علماوو او د خلکو استازو د یو شمېر وړاندیزونو د وړاندې کولو په ترڅ کې، د پوهنې وزارت د پروګرامونو او پلانونو د پلي کېدو او د ښوونیز بهیر د ودې په برخه کې مشرتابه ته له خپل لوري د ملاتړ ډاډ ورکړ.

**پوهنې وزارت د دیني علومو ...**

د پوهنې وزارت مشرتابه یادو موخو ته د رسېدو لپاره شپه او ورځ هلې ځلې کوي چې د علم او پوهې ډېوه بلې وساتي او پلوشې یې د هېواد ګوټ ګوټ ته ورسوي.
د پوهنې وزارت له لوري هڅې رواني دي چې د هېواد د ځوانانو علمي او پوهنیز ځواک سره ملګري کړي تر څو د هېواد د لوړو ګټو د خوندي کولو په لور د علم او پوهې د پلوشو په خپرولو سره خپل دروند او له وياړه ډک مسئولیت د یوه پوره په توګه ادا کړي.
پورتنیو هیلو ته د رسېدو لپاره په ۱۴۰۳ کال کې د پوهنې وزارت له خوا د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په سلګونو مدرسې او ښوونځي تأسیس، جوړې او بیا رغول شوي دي چې په دې توګه د هېواد په لېرې پرتو ولسوالیو او هغو سیمو کې چې په تېر کې ماشومانو مدرسو او ښوونځیو ته لاس رسی نه درلود ښوونیز خدمتونه وړاندې کوي د یادو ښوونځیو او مدرسو په جوړېدو سره د هېواد په سلګونو زره ماشومانو ته د زده کړو زمینه برابره شوې او هغوی ته د زده کړې سالم چاپېریال را منځ ته شوی. همداراز د پوهنې وزارت له لوري په میلیونونه ټوکه درسي کتابونه او ښوونیز مواد لوړه فیصدي د هېواد تر ډېرو لېرې پرتو سیمو رسول شوي دي چې په دې سره د کتابونو د نه شتون ستونزه تر ډېره بریده حل شوې. همداراز د پوهنې وزارت له لوري په هېواد کې د ښوونیز نظام د لا پیاوړتیا په موخه په زرګونو تنه ښوونکي او کدرونه جذب شوي او هم داسې پلانونه ترتیب شویدي چې په پلي کېدو سره به یې د هېواد په ښوونیز نظام کې د پام وړ مثبت بدلونونه رامنځته شي. هدف دا دی چې په هېواد کې د متوازني ښوونې او روزنې آسانتیاوې برابرې او په هېواد کې د پوهې رڼا خپره او د هېواد وګړي او ځوان نسل وکړای شي د خپل هېواد د برخلیک په ټاکلو کې په علمي او شعوري توګه برخه واخلي او د جهل او ناپوهی تغر چې تړی بل ستر دښمن نشته ټول کړي او د پوهې او علم په لاسته راوړلو سره د هېواد د آبادولو او سمسورولو امکانات تر لاسه کړي او په تورو تیارو کې د بري په لور د رڼا لاره پرانیزي ځکه چې عامه ګټې د علم او پوهې له خپرولو پرته نشي خوندي کېدای.

**نیمروز کې په زرګونو ...**

مواد او قرطاسیه د همدغه ولایت پوهنې ریاست ته ورکړل شول، چې له دې جملې ۹۲۹ کارتنه قرطاسیه له لومړي تر درېیمو ټولګیو پورې ۱۸۰۰۰ تنو زده کوونکو ته او همدارنګه ۴۳۶ کارتنه ښوونیز مواد په ۴۳۶ تنو ښوونکو وویشل شول .
د نیمروز د پوهنې رئیس په وینا د یادو ښوونیزو توکو په وېشلو سره به د لوی شمېر زده کوونکو او ښوونکو ستونزې د زده کړې په برخه کې حل شي.

**غزني کې د مدرسې او...**

په لرلو سره په یو جریب ځمکه کې د یو میلیون افغانیو په لګښت سره جوړه شي.
د سیمې خلکو د یادو ښوونیزو بنسټونو د چارو پر پیل خوښي څرګنده کړه او له پوهنیز نظام سره یې د خپلو همکاریو ډاډ ورکړ.
د پوهنې وزارت رهبري د غزني ولایت د پوهنې مینه والو د مرستو له امله مننه کوي.

**باشنده گان ولایت ...**

جغتوی این ولایت نیز شماری از باشنده گان محل برای بازسازی و تجهیز برخی مکاتب در این ولسوالی کمک مالی نموده است در این کمک ها وقف ۱۰ جریب زمین' بازسازی یازده صنف درسی یک مکتب که حدود ۴۰۰ هزار افغانی هزینه برداشته که از سوی دو شخص معارف دوست پرداخت گردیده است.
گفتنی است که از آغاز سال جدید تعلیمی تا اکنون در ولایات مختلف کشور ده ها مکتب و مدرسه به کمک مالی باشندهگان محل ساخته شده که با ساخت آن برای هزاران تن از شاگردان محل زمینه فراگیری آموزش فراهم گردیده است.
رهبری وزارت معارف حمایت مردم را از معارف کشور به دیده قدر نگریسته و از مردم علم پرور ولایت میدان وردگ در این راستا تشکر می‌نماید.

**سرپل ولایت کې ...**

د یو باب اناثیه ښوونځي د ودانۍ چارې بشپړې او د دغه ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو له خوا ګټې اخستنې ته وسپارل شوه.
یاده نوې ودانۍ چې ۸ درسي ټولګي، ۴ اداري خونې له ټولو لوازمو سره، ۱۶۰ پایې مېزونه - څوکۍ، د اوبو رسولو او لمریزې برېښنا سیستمونه لري.
د یادې ودانۍ په جوړېدوټولټال ۱۵ مېلیونه ۷۳۵ زره افغانۍ لګښت راغلی چې د پوهنې په برخه کې د یوه همکار بنسټ له خوا تمویل شوی دی.
د سیمې اوسېدونکو د یاد ښوونځي پر جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د پوهنیز نظام د پیاوړتیا او ودې په برخه کې یې د هر ډول ملاتړ او مرستې ډاډ ورکړ.

**د پوهنې وزارت د ښوونکو د...**

د یاد سیمینار د پیلولو موخه، د ښوونکو د روزنې علمي غړو د مسلکي پوهې د کچې لوړول او مسلکي وده ده.
په پام کې ده، چې د دغه ډول مسلکي ورکشاپونو په جوړولو سره د هېواد د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو ښوونکو، سرښوونکو، مدیرانو او د اداري شورا غړو ته علمي روزنه ورکړل شي.

## لنډ خبرونه

**کندز**

پوهنې وزارت د یو همکار بنسټ په مالي ملاتړ د ۲۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د کندز ولایت، آقتاش ولسوالۍ اړوند د جنت باغ لومړني ښوونځي ودانۍ جوړه او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
دغه ودانۍ ۸ درسي ټولګي، اداري خونې، یوه لابراتواري خونه، احاطوي دېوال، د پاکو اوبو رسولو شبکه، د سولري برېښنا سیستم، د زده کوونکو مېز ـ چوکۍ او یو شمېر نور اړین ملحقات لري.

**لغمان**

د پوهنې وزارت له لوري د لغمان ولایت د پوهنې ریاست په انګړ کې د یو محراب جوماټ د جوړېدو د بنسټ ډبره د یو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه. یاد جوماټ د حاجي عبدالوکیل رسولي د سیمې د یو تن اوسېدونکي په مالي ملاتړ د یو میلیون افغانیو په ارزښت سره جوړېږي، چې په یو وخت کې شاوخوا د ۲۰۰ تنو لمونځ کوونکي په کې لمونځ کولای شي.

**غزني**

د غزني ولایت مرکز اړوندو ښوونځیو د سپورټي لوبډلو ترمنځ د فوټبال او کرېکټ سیالۍ، د یاد ولایت د سنایي او لعل محمد افغان لیسو په سپورټي لوبغالو کې پیل شوې.د یادونې وړ ده، چې د فوټبال په سیالو کې ۲۰ لوبډلې او د کرېکټ سیالیو کې ۳٦ لوبډلې برخه لري

**هلمند**

یکی از نهادهای کمک کننده به معارف در ولایت هلمند به تداوم همکاری های خود با معارف، اخیرا به تعداد ۴۳ هزارو ۴۴۷ جلد کتاب های درسی صنوف دوم و سوم را غرض استفاده شاگردان مکاتب ولایت هلمند به ریاست معارف ولایت یاد شده مساعدت نمود.
الحاج مولوی محمد عوض انصاری رئیس معارف ولایت مذکور برای مسئولین معارف هدایت داد که هرچه زودتر کتاب های مساعدت شده را به دست رس شاگردان مکاتب آن ولایت قرار دهند.

**لوګر**

د لوګر ولایت برکي برک ولسوالۍ اړوند د رستم خېلو ښوونځي ته د پوهنې یو تن مینه وال، انجینر نعمت الله ستانکزي له لوري ۲ بابه درسي ټولګي د څه باندې ۷۸ زره افغانیو په ارزښت جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول. د یادو درسي ټولګیو په جوړولو سره شاوخوا ۱۰۰ تنه ماشومانو ته ښوونیز چاپېریال برابر شو.

**تخار**

پوهنې وزارت له لوري د تخار ولایت په مدارسو او دارالحفاظونو کې د ۱۵۰ خالي بستونو د ډکولو په موخه له ۲۲۱ تنه نوماندانو څخه رقابتي آزموینه واخیستل شوه.

**بغلان**

د پوهنې له بودیجې څخه د ۲۵۴ زره افغانیو په ارزښت د بغلان ولایت برکه ولسوالۍ پوهنې آمریت په انګړ کې د څښاک پاکو اوبو یو حلقه څاه چمتو او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه همداراز د نهرین ولسوالۍ اړوند د سجان ښوونځي د بیارغونې چارې د ۳٦۲ زره افغانیو په ارزښت بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

احسان مجاهد

# هغه ۳٤ ستر علماء چې زیات شمېر کتابونه یې په میراث پرېښي دي



۱_ داسلام تر ټولو ستر مؤلف ابن جریر طبري (رحمه الله تعالی علیه) چې څومره تصنیفات کړي دي؛ دصفحو شمېر یې درې شپېته لکه ته پورته کېږي، ځکه نو دی د تصنیف په ډګر کې تر ټولو علماوو مخکښ بلل کېږي.

۲_ مولانا عبد الحی لکنهوي (رحمه‌الله تعالی علیه) په ۳۹ کلنۍ کې وفات شوی ده، خو په مفیدو او ستونزمنو مسائلو کې یې تصنیفات تر ۱۱۰ څخه اوړي او ځینې کتابونه یې په څو ټوکو کې چاپ شوي.

۳_ علامه محمد جمال الدین قاسمي(رحمه‌الله تعالی علیه) د مشقي په ۴۹ کلنۍ کې وفات شوی ده، خو په دې مختصر ژوند کې یې تر سلو زیات کتابونه لیکلي دي.

۴_ حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمه‌الله تعالی علیه) په ۸۱ کلنۍ کې وفات شوی دی، خو لیکلي آثار یې تر زرو اوړي.

۵_ ابو یوسف عبد السلام قزویني( رحمه‌الله تعالی علیه) د «حدائق ذات بهجه» په نامه په درې سوه جلده کې یو تفسیر ولیکه، خو کله چې د بغداد په دار الخلافت باندې مغول غالبه شول نو ددوي له لوري دیو لړ نورو کتابونو تر څنګ دغه ضخیم تفسیر هم ضایع شو.

۶_ قاضي عبد الجبار همداني (رحمه‌الله تعالی علیه) د «المحیط» په نامه په سل جلده کې یو تفسیر ولیکه.

۷_ امام ابو الحسن اشعري (رحمه‌الله تعالی علیه) د «المختزن» په نامه په اویا جلده کې یو تفسیر لیکلی دی.

۸_ حافظ ابن شاهین(رحمه‌الله تعالی علیه) په زر جزء کې یو تفسیر لیکلی دی.

۹_ قاضي ابو بکر بن عربي (رحمه‌الله تعالی علیه) په شا وخوا اتیا زره صفحو مشتمل د «انوار الفجر» په نامه یو تفسیر لیکلی دی. چې اوس هم د ترکیې په بعضو مکتبو کې پیدا کېږي.

۱۰_ ابن نقیب مقدسي(رحمه‌الله تعالی علیه) تقریبا په سل جلده کې یو تفسیر لیکلی، چې بعضي جلدونه یې د استانبول په بعضو مکتبو کې اوس هم پیدا کیږي.

۱۱_ په نن زمانه کې د « فتح المنان» په نامه تر ټولو لوی تفسیر د علامه قطب الدین شیرازي دی چې په څلویښت جلده کې دی.

۱۲_ علامه محمد زاهد بخاري (رحمه‌الله تعالی علیه) په شاوخوا سل جلده کې یو تفسیر لیکلی دی.

۱۳_ ابن ابي الدنیا (رحمه‌الله تعالی علیه) زر لیکلي کتابونه په میراث پرېښودل.

۱۴_ ابن عساکر(رحمه‌الله تعالی علیه) په اتیا جلده کې یو تاریخ لیکلی دی.

۱۵_ ابن شاهین(رحمه‌الله تعالی) درې سوه دیرش تصنیفه کړي دي، چې «التفسیر» کتاب یې په زر جزء کې او «المسند» یې په پنځلس سوه اجزاؤ کې دی.

۱۶_ امام ابو محمد علي بن حزم (رحمه‌الله تعالی علیه ) څلور سوه جلده کتابونه لیکلي دي چې ټول تقریبا په اتیا زره صفحو مشتمل دي.

۱۷_ امام ابو محمد عبد الرحمن بن ابي حاتم رازي (رحمه‌الله تعالی علیه) په فقه، حدیث او تاریخ کې زیات کتابونه لیکلي دي، چې یوازې « المسند» یې په زر اجزاؤ مشتمل دی.

۱۸_ د « المستدرک علی الصحیحین» لیکوال حاکم نیشابوري( رحمه‌الله تعالی علیه) د تصنیفاتو شمېر پنځلس سوه جزء ته نږدې کیږي.

۱۹_ د ابو الحسن اشعري( رحمه‌الله تعالی علیه) واړه او غټ کتابونه پنځوس ته رسېږي او زیات کتابونه یې دباطلو فرقو( ډلو)په رد کې لیکلي دي چې دداسې کتابونو تصنیف ډیر وخت نیسي.

۲۰_ ابن تیمیه (رحمه‌الله تعالی علیه) په مختلفو فنونو کې په شاوخوا پنځه سوه جلدو کې درې سوه کتابونه لیکلي دي .

۲۱_ د نوموړي شاګرد ابن قیم جوزیه (رحمه‌الله تعالی علیه)تقریبا پنځوس جلده واړه او غټ کتابونه لیکلي دي .

۲۲_ امام بهیقي (رحمه‌الله تعالی علیه) زر جزء کتابونه لیکلي دي.

۲۳_ محمد بن سحنون (رحمه‌الله تعالی علیه) په فقه، سیر، تاریخ او نورو فنونو مشتمل یو کتاب په سل جزء کې لیکلی ده.

۲۴_ امام ابو بکر ابن عربي المعافري( رحمه‌الله تعالی علیه ) د شرح ترمذي، شرح الموطاء، احکام القرآن، عواصم من القواسم او المحصول في الاصول ترڅنګ په اتیا جزء کې یو لوی تفسیر لیکلی دی.

۲۵- د ابي عبیده معمر بن المثنی (رحمه‌الله تعالی علیه) تصنیفات په مختلفو فنونو کې تر دوو سوو پورې رسېږي.

۲٦- د ابن سریج(رحمه‌الله تعالی علیه) تصنیفات تر څلورو سوو پورې رسېږي.

۲۷- د اندلس د ستر عالم عبدالملک بن حبیب (رحمه‌الله تعالی) تصنیفات تر زرو پورې رسېږي.

۲۸- د عربو د ستر فیلسوف یعقوب بن اسحاق الکندي تصنیفات ۲۳۱ دوه سوه یو دیرش ته رسېږي.

۲۹- په تاریخ کې د ابن جوزي لمسي (رحمه‌الله تعالی) یو کتاب «مرآة الزمان» په څلویښت جلده کې لیکلی دی.

۳۰- خطیب بغدادي « تاریخ بغداد» په څوارلس جلده او «الاغاني» یې په شل جلده کې لیکلی دی.

۳۱- ابن اثیر «کامل» په دوولس جلده کې لیکلی دی.

۳۲- ابو حنیفه الدینوري «شرح النبات» په شپیته جلده کې لیکلی دی.

۳۳- په متاخریو کې حافظ ابن حجر او امام ذهبي هم زیات تصانیف لري چې د ابن حجر «فتح الباري» او «الاصابه» او د ذهبي «تاریخ الإسلام ووفیات المشاهیر والأعلام» او «سیر أعلام النبلاء» د یادونې وړ دي.

۳٤- د امام سیوطي تصانیف تر څلور سوه اوړي.

مأخذ: (قیمة الزمن عند العلماء) ص ۱۵۸_۱۶۲

پاملرنه! «جلد» دې ته وایي چې په دوو وقایو (د فتنو) کې بند وي او «جزء» چې بیا په جلد کې کومې برخې وي هغې ته وایي.

درنو لوستونکو! د پورتنیو معلوماتو له راغونډولو څخه مو موخه یوازې ځوان نسل ته د لوړ همت انګیزه وربخښل دي؛ ځکه په دین کې تر ځان لوړو کسانو ته کتل او د هغوي له خدمتونو او کارنامو څخه ځان خبرول د انسان همت لوړوي، د ځان قدر معلومیږي، په اسلافو پسې د اقتدا او د دین د خدمت روحیه راژوندۍ کیږي او په عبادت او وخت دانسان حرص پیاوړی کیږي.

# د عود عطر

ژباړه: عمر

تاسو فکر کوئ چې یوه ونه په څومره قیمت پلورل کیږي؟ یو لک یا یو میلیون روپۍ؟

د بنکاک په یوه معبد کې یوه ونه شته چې ارزښت یې ۲.۳ میلیونه ډالره دی. بې له شکه دا په نړۍ کې تر ټولو قیمتي ونه ده چې په عربي کې "عود" او په انګلیسي کې ("Agerwood" اجرعود) بلل کیږي.

د عود تر ټولو نایابه ډول "کینام" دی چې په نړیوال بازار کې د یو کیلو ګرام بیه نهه میلیونه ډالره ده، څه موده وړاندې په شانګهای کې دوه کیلوګرامه کینام په ۱،۸ میلیونه ډالره وپلورل شو.

عموما، د عود بیه د استخراج په مقدار پورې اړه لري چې یو لیتر یې په ۸۰,۰۰۰ زره ډالره پلورل کیږي.

د دې تر څنګ یې یو ۱ کیلو پوستکی له ( ۲۰۰ تر ۵۰۰۰ ) زرو ډالرو پلورل کېږي.

پوښتنه دا ده چې په دې ونې کې څه شی دی چې جاپاني پانګه اچوونکي د دې لپاره دومره پیسې ورکوي؟

عود هغه ونه ده چې په بودیزم، هندویزم او اسلام کې مذهبي حیثیت لري.

په کوم ځای کې چې د هندوانو په مذهبي کتاب رګویدا کې ذکر شوی دی، داسې شواهد شته چې د حضرت یوسف (ع) په زمانه کې دا لرګي له هند څخه راوړل شوي وو او د عطرو لپاره کارول کیدل.

په حدیث شریف کی راغلی دی چی دا عطر عود « باید وپیژنئ ځکه چی ۷ اووه ډوله شفا ورکونکي دي ».

هغه نېکمرغه کسان چې د بیت الله د زیارت، شرف یې ترلاسه کړی وي د حرم په فضا کې به یې له زړه دا بوی احساس کړی وي.

دا بوی د کعبې شریفې په احاطه او د حجرالسود ( توري تیږې )پر مخ هم لګیږي.

عود د نړۍ یو له خورا قیمتي عطرو څخه شمیرل کیږي چې یوازې د عربو شهزادګانو او بډایه خلکو لخوا کارول کیږي.

که مور د دې ونې د درملو ګټو په اړه خبرې وکړو، د هغې اغیز منتوب حیرانتیا لري.

د ملا درد، پړسوب، بدهضمي او سرطان لپاره ګټور دی. عود پوستکي دانو لپاره مؤثر دی.

د نړۍ په کچه د عود غوښتنه ورځ په ورځ زیاتیږي.

اوس مهال یې نړیوال بازار کې بیه ۳۲ میلیارده ډالره دی چې په راتلونکو اتو کلونو کې به دوه برابره شي.

آخر څه وجه ده چې له دومره ګټو سره سره د دې ونې تقاضا نه پوره کېږي؟ په ساده الفاظو کې، د دې لامل د عود محدود تولید دی.

## بدن نوزادان
## ٦۴ استخوان بیشتر از بدن افراد بزرگسال دارد

نوزادان حدود ۲۷۰ استخوان در بدن شان دارند که باعث انعطاف پذیر شدن اسکلت آن ها می شود. با بالا رفتن سن، بسیاری از این استخوان ها با یکدیگر ترکیب می شوند و در نهایت ۲۰٦ استخوان باقی می ماند که اسکلت یک فرد بالغ معمولی را تشکیل می دهند.

## حیوانات هم مانند ما می توانند خواب ببینند

بعضی تحقیقات نشان می دهد موش ها درباره ی پیدا کردن غذا یا دویدن در مازها خواب می بینند. بیشتر پستانداران هم در زمان خواب وارد مرحله ی رِم می شوند، یعنی چرخه ای که در آن خواب می بینیم.

## گژدم‌ها زیر نور فرابنفش می‌درخشند



درخشش سبز آبی مبهم آن ها ناشی از ماده ای است که در کوتیکل آن ها وجود دارد. کوتیکل لایه ی بسیار سختی است که جزئی از استخوان بندی بیرونی آن ها محسوب می شود. با این حال، دانشمندان هنوز نمی دانند این درخشش شب نما چه کاربردی دارد اما گمان می کنند که عقرب ها از آن برای پیدا کردن همدیگر استفاده می کنند و این درخشش از آن ها در برابر نور خورشید محافظت می کند و باعث سردرگم شدن شکار آن ها می شود.

## رشد دو عضو بدن انسان ها هرگز متوقف نمی شود



رشد بینی و گوش های انسان تا پایان عمر او ادامه دارد، حتی زمانی که رشد بقیه ی اعضای بدن او پایان یافته است.

## ۹۹ درصد اتم از فضای خالی تشکیل شده

هر اتم از یک هسته ی کوچک تشکیل می شود که در اطراف آن یک ابر الکترونی وجود دارد. این ابر الکترونی وسعت نسبتا زیادی دارد. بنابراین اگر بخواهید این فضای خالی را از تمامی اتم های ۷ میلیارد انسان کره ی زمین حذف کنید، همه ی آن ها در یک حبه قند جای می گیرند.

Newspaper
# Marif
Weekly

مسئول مدیر: سعید «جلال»
کتنپلاوی: الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب»
مولوي عزیز احمد «ریان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
احمد شعیب «حقیقی»
معراج «زمانی»
محمد اکرم «وفادار»
محمد نسیم «عیاذ»
عبدالصبور «غفرانی»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوری»
محمد اشرف «رسولی»

ډیزاینر : محمد قسیم «یعقوبی»
تیراژ: ۳۰۰۰
پته: د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزی مدیریت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را
جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکي شمېره: ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No284

## په هېواد کې د دیني مدرسو د احصائيې راټولو لومړنی چارې پیل شوې



په هېواد کې د دیني مدرسو، دارالحفاظونو او دارالعلومونو د احصائيې او دقیق شمېر معلومولو په اړه د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت لخوا د یاد معینیت د چارواکو له لوري غونډه ترسره شوه .

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معین محترم الحاج مولوي کرامت الله اخندزاده د دیني مدرسو ، دارالحفاظونو او دارالعلومونو د کره شمېر او احصائيې راټولول اړین وبلل او اړونده مسئولینو ته یې سپارښتنه وکړه تر څو په هېواد کې د مدرسو، دارالحفاظونو او دارالعلومونو د احصائيې راټولو په موخه ځانګړي فورمونه جوړ او له مخې یې له ولایتونو څخه د یادو ښوونیزو بنسټونو کره احصائیه راټوله کړي.

وروسته د پوهنې وزارت د معلوماتو او احصائيې رئیس هم د موضوع د ارزښت او اړتیا په اړه خبرې وکړې او اړونده مسئولینو ته یې په یاده برخه کې د هر ډول همکاریو ډاډ ورکړ.

## لوګر کې د یو شمېر مدارسو او ښوونځیو بیارغونې په موخه تدارکاتي چارې پیل شوې

په پام کې ده چې ډېر ژر په لوګر ولایت کې د ۱۵ بابه ښوونځیو، ۳ بابه دیني مدارسو او یوې اداري ودانۍ د بیارغونې او ترمیم چارې پیل شي.

د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو رئیس قاري منصور احمد حمزه وایې چې د یادو پروژې لګښت د پوهنې وزارت له بودیجې څخه ورکول کېږي چې د یادو ښوونځیو او مدرسو د بیارغونې



چارو په بشپړېدو سره به ددې ولایت د مدارسو شاوخوا ۱۰۰۰ تنو طالب العلمانو او د ښوونځیو ۷۵۰۰ تنو زده کوونکو ته د زده کړو لپاره مناسب چاپېریال برابر شي.

د پوهنې مسئولینو او زده کوونکو د پوهنې وزارت له دغه اقدام څخه خوښي څرګنده کړې ده.

## کاربازسازی یک باب مکتب درمربوطات شهر کابل به اتمام رسید

لیسه محجوبه هروی شهر کابل که چندی پیش کار ترمیم آن آغاز شده بود پس از تکمیل کاربازسازی مکتب مذکور از سوی قاری عبدالباسط حقانی رئیس معارف شهر کابل افتتاح و به بهره برداشته شد.

به گفته مسئولین آن ریاست کارترمیمات لیسه یاد شده مبلغ یک میلیون و ۲۱۰ هزار افغانی هزینه برداشته است که از سوی یک نهاد همکار با معارف کمک شده است.

## سنگ تهداب ساخت یک باب مکتب ابتدائیه در جوزجان گذاشته شد

سنگ تهداب ساخت مکتب ابتدائیه اسلام جوی در شهر شبرغان مرکز ولایت جوزجان طی مراسم با اشتراک شماری زیادی از اهالی منطقه، بزرگان قومی، علمای کرام و متنفذین از سوی مولوی سید حفیظ الله معتصم بالله رئیس معارف این ولایت گذاشته شد.

رئیس معارف ولایت صفحه۲

## کابل کې د یوه ښوونځي جومات او وړکتون تر بیارغونې وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شول



د کابل ښار اتمې ښوونیزې حوزې اړوند د بی بی شمسو منځنې ښوونځي په انګړ کې یو جومات او وړکتون تر بیارغونې وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د کابل ښار پوهنې رئیس قاري عبدالباسط حقاني وایې: د یاد ښوونځي یو باب جومات او وړکتون چې د بیارغونې چارې یې څه موده د مخه پیل شوې وې تر بشپړېدو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې چې پدې سره د یاد ښوونځي ښوونکو او زده کوونکو ته لازمې اسانتیاوې برابرې شوې.

دده په وینا د جومات او وړکتون د بیارغونې ټولټال لګښت د ۶۱۰ زره افغانیو ته رسیږي چې د سیمې د خلکو لخوا مرسته شوې وې.

## د کابل ښار د یو شمېر ښوونځیو سپورټي لوبډلو ترمنځ سیالۍ ترسره شوې




د افغانستان، ا.ا. دبري او فتحې درېیمې کلیزې په مناسبت د پوهنې وزارت د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست له خوا او د کابل ښار پوهنې ریاست په همکارۍ، د ۳۵ لیسو اړوندو سپورټي لوبډلو ترمنځ د ۵۰۰۰ متره په واټن (د دارالامان ماڼۍ څخه تر حبیبیې لیسې پورې) د منډې جوړولو سیالۍ ترسره شوې.

د پوهنې وزارت د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست د بدني روزنې آمریت مسئولینو په وینا یادې سیالۍ د یو ځانګړي پلاوي تر څارنې لاندې په لاره اچول شوې وې چې د سیالیو په پای کې د عبدالعلي مستغني لیسې لومړی مقام او په ترتیب سره د غازي لیسې دویم او د سید نورمحمد شاه مېنې لیسې درېیم مقامونه ترلاسه کړل. همدارنګه د ذبیح الله شهید او حبیبیې لیسو څلورم او پنځم مقامونه خپل کړل.

د سیالیو په پای کې د مسئولینو له لوري ګټونکو لوبډلو ته سپورټي کپونه او ستاینلیکونه ورکړل شول.

## د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو لپاره مسلکي سیمینار جوړ شو



د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا رئیس مولوي محمد ابراهیم عمري له لوري د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا د ۸۵ تنو علمي غړو لپاره د لومړنۍ سروې (د ښوونیزې نظر سنجۍ) تر سرلیک لاندې مسلکي سیمینار پرانیستل شو.

د چارواکو په وینا، ۲مخ

## معرفی رئیس جدید سواد آموزی وزارت معارف

از جانب الحاج مولوی سخاءالله سعید معین تعلیم و تربیه وزارت معارف، مولوی عبیدالله آخندزاده به حیث رئیس جدید سواد آموزی برای کارمندان و پرسونل آن ریاست معرفی و رسما آغاز به کار کرد.

در ابتداء معین وزارت معارف با اشاره به اصول اداری مبنی بر تبدیل و تقرر کادر های علمی مسلکی در ادارات، تصریح کرد: تغییرات در ادارات یک اصل بوده که به هدف بهبود امور اتخاذ می گردد.

سپس رئیس جدید سواد آموزی نیز طی سخنانی از اعتماد رهبری وزارت معارف مبنی بر تقرر شان در ریاست سواد آموزی، اظهار قدردانی نموده تعهد سپرد که با تمام توان در جهت امحای بی سوادی در کشور تلاش خستگی ناپذیر می نماید.

**یوازې پوهه او کار موږ د پرمختګ لوړو څوکو ته رسولی شي.**